د سپک کتابتون د خپرونو لړۍ
سلسلهء نشرات کتابخانهء سپك
۱

# د افغانستان فرهنگی میراثونو ته یوه کتنه

# نظری بر میراثهای فرهنگی افغانستان

نانسی هچ دوپری



د افغانستان د فرهنگی میراث ساتنی ټولنه
انجمن حفظ میراث فرهنگی افغانستان
۱۹۹۸

۱

PROPERTY OF ACKU 7542

د سپک کتابتون د خپرونو لړۍ

# د افغانستان فرهنگي میراثونو ته یوه کتنه

نانسي هچ دوپري

PROPERTY OF ARIC Established 1989

د افغانستان د فرهنگي میراث ساتني ټولنه
۱۹۹۸

2

## دکتاب پیژندنه


دکتاب نوم : دافغانستان فرهنگی میراثونو ته یوه کتنه

لیکواله : میرمن نانسی هچ دوپری

پښتو ژباړونکی : عبدالله پویان

دری ژباړونکی : میراحمد جوینده

اډیټر : حامد

خپرونکی : «سپک» دافغانستان دفرهنګی میراث ساتنې ټولنه

دچاپ کال : ۱۳۷۷ هـ ش - پېښور

پته: اریک، پست بکس نمبر ۱۰۸٤ ، یونیورستی ټاون، پېښور، پاکستان

ای میل : Spach @ spach. org. pk

انترنت : http://www. spach. org. pk

دچاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

بیه : ..... کلدارې

کمپوزر : عبدالغفور «میرویس»

کمپوز : نصیر لیزرکمپوز، ۱۲٤ نمبراتاق، دوهم پوړ، ګل حاجی پلازه، پیښور، پاکستان. تلفون ٤۳۸٦۱

3

# دمطالبو فهرست

عنوان صفحه


الف: سریزه

۱ - څه باید وکړو؟ ............ ٦

۲ - لار ښوونکی اداري ............ ٦

۳ - روزل شوی بشری سرچینې ............ ۱۰

٤ - دټولنې دمسوولیت احساس ............ ۱۱

٥ - دقانون خپرول او تطبیق ............ ۱۷

ب: لومړی توبونه:

۱ - ددفاع احساس ............ ۲۳

۲ - دمعلوماتو راټولول ............ ۲۵

۳ - دمعلوماتو خپرول ............ ۲۵

٤ - دکادرونو روزل ............ ۲٦

٥ - دمتخصصینو تبادله ............ ۲٦

٦ - دمالی پانګې برابرول ............ ۲٦

ج: دلرغونو سیمو او تاریخی آبداتو دلومړی توبونو اوسنی وضعیت: ۲۷



PROPERTY OF ARIC Established 1989

## دسپک کتابتون دخپرونو لړۍ

دافغانستان دفرهنګي میراث ساتني ټولنه «سپک» چې په اسلام آباد، پېښور او کابل کې ځانګړي لري په ۱۹۹٤ م ( ۱۳۷۳ هـ ش کال کې) جوړه شوه.

دنوموړې ټولنې هدف په افغانستان کې دننه او بهر له مختلفو ادارو، مؤسسو او ځانګړو خلکو سره داطلاعاتو مبادله، دمعلوماتو شریکول او تماسونو ټینګول دي.

دسپک ټولنې دخپلو غړو دګډو هڅو له لارې توانیدلې چې دموزیمونو، لرغونو سیمو، تاریخي آبداتو او لاسي صنایعو مصور کتلاک جوړ کړي.

دسپک افغاني او نړیوالو غړو لپاره، دټولنې دفعالیتونو په باب خپرونه خپرېږي چې هدف ئې دښو او پراخو اړیکو ساتل، دعامه اطلاعاتي وسایلو او مبلغینو له لارې وده ورکول دي.

دسپک کتابتون دخپرولو لومړۍ هدف دهڅونې دکوششونو دیوې برخې په توګه د لوستونکي دافغاني فرهنګي میراث له مختلفو برخو سره آشنا کول دي.

ددې لړۍ هره ګڼه دیوې تاریخي آبدې، یوې لرغوني سیمې، یوتاریخي اثر یاکله هم نورو اړوندو مطالبو ته چه له پالیسي او محافظوي چارو سره اړه لري وقف شوې ده.

دمتخصصینو په واسطه لیکل شوې مقالې دتحریر هیئت له خوا انتخابېږي چې په پښتو، دري او انګریزي ژبو خپرېږي. ددې کار سرته رسولو څخه هدف دادې چې دمختلفو سطحو لوستونکو معلوماتو ته وده ورکړل شي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه

د لیکني لنډیز :

له ابداتو څخه تر حماسي شعرونو پورې د افغانستان فرهنګي میراثونه د یو طبیعت د وياړ او پرتم څرګندوی دي. اوس دا میراثونه له خپلې سیمې او چاپیریال سره یو ځای له خطر سره مخامخ شوي دي. په دې لیکنه کې د سیمې د فرهنګي پرمختیا پیل، د اوسنیو ستونزو او د هغو د څېړنو په باب بحث کیږي او د هغو هڅو وړاندیز کیږي چې کولای شي په دې برخه کې یو ګډ عمل رامنځته کړي.

سریزه :

د افغانستان د فرهنګي میراثونو ریښې له نن څخه سل زره کاله د مخه په هغه وخت کې چې نر او ښځې لومړي ډبرین وسایل منځته راوړل او تر اوسه کشف شوي دي رسیږي. دا وسایل د پالیولیتیک په دویم پړاو د غزني د ناور په دښته کې چې یو وخت د هغه عصر د خلکو استوګنځی و، دا دی اوس په تیت و پرک ډول شته. د ناور دښته په مرکزي افغانستان کې یوه پراخه سیمه ده چې جهیلونه او کرنیزې سیمې لري او د زیات شمیر هیلیو د استوګنې او تغذیې لپاره زمینه برابروي. ډیر ښکلي ډبرین وسایل

له شمالي ولايت بلخ نه د بلخ د سيند پر غاړه د اوسني آق کپرک کلي ته نږدې له ډبرينو غارونو او پناه ځايونو څخه تر لاسه شويدي. د پاليوليتيک د لومړي پړاو مربوط د آق کپرک د چقماقي وسايلو جوړونکي چې د پنځه لس زره کلونو په شاوخوا کې يې له ميلاد څخه د مخه کار کاوه، د پاليوليتيک د دورې (ميکل انژلونو) په نامه يادېږي.

له تاريخ نه د مخه انسان د اوبو د سرچينو شاوخوا سيمې بانې هغه ځايونه چې د وحشي حيواناتو د پاملرنې وړ و د خپل ژوند لپاره وټاکل. ځکه چې د ښکار کوونکو د ټولنو پاښښت او د هغوی راتلونکی بشري ژوند په همدې حيواناتو پورې تړلی و.

له نن څخه د اوه زرو کلونو په شا و خوا کې د مخه، هغوی پدې پوه شول چې د نباتاتو او حيواناتو - په ځانګړې ډول د وزو او پسونو اهلي کولو پواسطه غذا تر لاسه کړي. د کرنې او مالدارۍ د اغيزمن پرمختګ له امله يې ځانته هميشني استوګنځي جوړ کړل، کلي او ورپسې يې ښارونه ودان کړل.

د برونزو په عصر، له ميلاد څخه ۲۵۰۰ شاوخوا کلونه د مخه، کلي د ښارونو لپاره د غذايي مواد د برابرولو جوګه شول او صنعتکارانو د نويو موادو د پرمختګ په لاره کې چې د فلزاتو او سفالي لوښو له جملې څخه وو د خپل استعدادد کارولو لپاره زيات وخت تر لاسه کړ. له هغو څخه يې د مذهبي مجسمو، وسلو، د کورنۍ د اړتيا وړ لوښو، او د ځاني ښکلا لپاره د ښکلاتيزو آلاتو په ګډون بيلا بيلې زياتې صنايع جوړې کړې. په هنري استعدادونو کې دا پرمختګ په لړې واتين کې له نورو تمدنونو سره د سوداګرۍ د راکړې ورکړې سبب شو چې پدې وخت کې په مصر کې د نيل د درياب په څنډو، د عراق په جنوب کې د دجلې او فرات او په هند کې د سند

په ناوه کې راڅرګند شوی و. د بدخشان لاجوردو- د سوداګرۍ بازار ته ځلا ورکړې وه او وروسته د میلادي پیړیو په لومړیو کې د وربښیمو د مشهورې لارې په امتداد د ختیځ په لور چین، د لویدیځ په لور روم او پورته د جنوب په لور تر هنده پورې زیاته او پراخه شوه.

افغانستان د سیمې د وصلوونکې کړۍ اهمیت لري چې نه یوازې سوداګر، بلکې فاتحان چې د خپلو امپراتوار یو د پراختیا غوښتونکي وو، روشنفکران، مذهبي مبلغان، زایرین، صنعتکاران او سیاسي فراریان ټول دلته په یو بل کې حل شول. پرته له دې چې هغوی د واک او پیسو د لاسته راوړلو، یا د مفکورې او نظریې د غوښتنې او یا د پناه ځای د لټون لپاره دلته راغلي وې، هغوی ټولو د افغانستان د فرهنګي میراثونو په وده او پر مختیا کې یو شان ونډه واخسته. د دې ګټور جوړښت مدارک کولای شو چې په ګڼو ډولونو د افغانستان په خاوره او هېواد کې وګورو. ځینې یې اوس هم د غونډیو په زړونو، ځینې یې په کنډوالو او ځینې یې لا تر اوسه لیدل شوي نه دي. ځینې اوس هم د اوسني ټولنې د ژوند یوه برخه جوړوي. یو شمیر اسلامي، ځینې یې د پخوانیو ادیانو، ځینې ډیر لوړ او پرتمین، ځینې یې ناځیزه، ځینی یې نوي، ځیني لرغوني، ځینې یې د تاریخي ابداتو په بڼه، ځینې صنایع، ځینې لیکني، ځینې انځور شوي، ځینې یې ګنډل شوي، ځینې هم د خامکدوزۍ په بڼه دي سرودونه، آلات او وسایل، البسه، استوګنځي او ښکلاییز شیان او ځینې هم په نورو ډولونو تر اوسه پورې له خپلې ګټورې ښکلا څخه برخمن دي.

د دې مادي کلتور د بیلابیلو برخو مشترکه وجه د طبیعت د ښکلا ځلونه او څرګندونه ده. افغاني شعر، فولکلوري افسانې، سرودونه، انځور ګري، خامکدوزي او د غالیو صنایع هر یو د طبیعت د ډالۍ، د هغه

د غرونو، سیندونو، الوتونکو، حیواناتو، ونو او ګلونو ستاینه او یادونه ده. مانۍ، زیارتونه، هر یو په ځانګړې پرتم سره د هغو د جوړونکو پواسطه د طبیعت پر ښکلو منظر و تاکل شوي او را منځته شوي دي. د باغونو او د سیندونو پر غاړو له دوديزو میلو سره د افغانانو مینه– تولنیزې او ملي ځانګړتیاوې دي چې د پیړیو په اوږدو کې د دې خاورې د شاعرانو په شعرونو کې منعکس شویدي.

اوسنۍ کړکیچنې سیاسي وضعې د افغانانو پر فرهنګي دود ویجاړونکی او تور سیوری خپور کړیدی. البته دا یو بیساری څیز نه دی. داسې حالات دد دې هېواد د تاریخ په اوږدو کی پخوا هم پېښ شویدي. کیداې شي یوه بیلګه یې د غزنی د ښار لوټ وي چې د علاء الدین غوري د یرغل پواسطه په ۱۱۵۱م کال کې تر سره شو او بل مثال یې په ۱۲۲۱م کال کې د چنګېز پواسطه عامه وژنه ده چې د غزنی پرتمینې مانۍ او ښونه یې د تل لپاره په کنډوالو بدل کړل. له شک پرته کړکیچونه د نه جبرانیدونکې فزیکي ویجاړتیا او زیانونو سبب کیږي. په څرګند ډول د داسې کړکیچونو په پایله کې ډله ایزې بیځایه کیدنې د داسې دودونو د پیاوړتیا جوګه ګرځي چې هویت یې دد ی ډول پېښو په دوړو او تیارو کې ډوب شي. د بیلابیلو مهاجرو ډلو له خوا دېته په ځیرتیا او سنجول شوي ډول پاملرنه شوې چې د خپل هنر د ودې او تخلیق پواسطه ځینې وتلې هنري ښکارندې (پدیدې) د لاسي صنایعو، ګلدوزۍ او نورو هنري ځانګړونو له لارې وساتي او وده ور کړي.

دا خبره مو باید ضرور په یاد وي چې جګړه د هنري بنسټونو د ړنګونې او کمونې یوازینی عامل نه دی. ښاري ژوند دودونه مضمحلوي. د بشري ژوند په دود کې بدلون پخپله د هنرونو او لاسي صنایعو د له منځه

وړلو یو بل عامل کیږي. د ساري په ډول د لرګیو د کندنکارۍ انجنیري چې یو وخت د پرله پسې پیړیو په بهیر کې په ټول افغانستان کې دود او رواج وه، د ۱۹ پیړۍ په وروستیو کې ورکه شوه. له جګړو څخه د مخه یې تقریباً ډیري کم پیدا بیلګې موجودې وې. له جګړې څخه د مخه د نه پاملرنې له کبله دا دی اوس په تیت و پرک ډول په هغو کنډوالو کې ښکاري چې نن د کابل د زاړه ښار په نامه یادیږي. که چیرې د هغو جوړونکي هغه په بل ډول جوړ نه کړي نو دا ډول تخلیقات او هنري زیږونې به له شک پرته په سمنتي ودانیو بدلې شي. په زړه پورې خبره دا ده چې د نویو پدیدو د هرکلي او هغه څیزونه چې تیر وخت پورې اړه لري، د هغو د خزانو د جوړولو له مخې باید د ټولنې انډول وساتل شي. نوښتونه او د هغو دوام باید یو له بل سره په موازي ډول حرکت وکړي چې د ټولنې په هر غړي کې د ځان پیژندنې احساس را پاروي؛ هغه احساس چې د یو ملت د واک او صلابت لپاره لازم ګڼل کیږي. نن ورځ زیاتو تیرو بنستهونو اوسمبولونو ته بې اعتنایي د دوام او استمرار مخه نیولې ده. موزیمونه په پراخه توګه لوټ شوي، لرغونې سیمې په بې رحمۍ سره تالان شوي، هنر او موسیقي منع شوي، او مهمې تاریخي ماڼۍ او ودانۍ ویجاړې او ورانې شوي او یا لازمه څارنه او ساتنه یې نه کیږي.

ان دې لست کې د هغو پنځوسو تاریخې ابداتو اوسني حالت ته چې پدې لیکنه کې یې یادونه شوې، یوه سرسري کتنه د پاملرنې وړ استثناتو سره داسې غمجنونکي مدارک ښیي چې د انساني خدمتونو د څارنې د نشتوالي، نه پاملرنې، بې تفاوتۍ او کم ارزښته ګڼلو په انډول هغه فزیکي ویجاړتیا چې د جګړو په پای کې منځته راغلې کمه ده.

**څه باید وکړو ؟**

کوم کار باید تر سره شي چې اوسنی حالت ښه شي ؟ البته ښه او مناسبه خبره به دا وي چې کوم کار کېدای شي تر سره شي ؟

لاندینۍ مباحثه زما د ځاني کتنو پرینسپ ولاړه ده. د وخت او مکان د غوښتنې له مخې،د موزیم، انجنیرۍ او لرغونپوهنې مسایلو پورې تړلې ده. لکه چې مو پورته اشاره وکړه البته په بشپړه توګه پوهیږو چې دا ښکاره شوي خواوې د افغانستان د پرتمینو فرهنگي میراثونو یوه برخه جوړوي.

د بهرنیو هڅو او همدا رنګه د زیات وخت د خوندي کولو لپاره له څلورو بنسټیزو تکو نه چې یو له بل سره تړلي او ډېره لګوي د یو ریښتني پلان طرح کول لازم دي. دا څلور تکي دا دي:

لومړی: حساسه اداره، یانې په دې برخه کې د اغېزمنو ادارو او موسسو د پالیسۍ تثبیتول.

دویم: با استعداده مسلکي کسان یانی روزل شوي اغېزمنې با احساسه بشري سرچینې.

دریم: د خلکو د مسوولیت احساس،یاني د فرهنگي میراثونو په وړاندې د خلکو د پوهې لوړتیا .

څلورم: لازم او اغېز من حقوقي سیستم،یانې قوانین او مقررات او د هغو اغېز من تطبیق.

**لارښوونکې اداري:**

په اوسنیو حالاتو کې د فرهنگي ملکېتونو د ساتنې په برخه کې د ملي شتمنیو د پیژندنې لپاره ډېر کم امکانات شته. سره له دې چې له

تخنیکي پلوه، پر کابل، هرات، مزار شریف او بامیانو باندې د واکمنو حکومتونو په د ننه کې رسمي اداري او سازمانونه شته چې د دولتي جوړښت نمایندګي کوي. دا موسسې چې په ۱۹۹۷ کال کې تأسیس شوي په هزاره جاتو، بامیانو کې د آبداتو او لرغونو سیمو له ساتنې پرته، نور هغو مؤسسو ته ورته دي چې د ۱۹۷۹ کال له شخړو څخه د مخه موجودې وې. هغه اوس لازم واک او پوره مالي سرچینې نه لري او اغلباً د سیاستونو، د پرله پسې بدلیدونکو هیلو، کړکیچونو او اختلافونو تابع دي چې د هغوی پر کار باندې اغیز کوي.

ددې ډول لړزیدنو او نه تینګښت یوه ښکاره بیلګه، د کابل موزیم دی چې د هغه د شیانو په سلو کې اتیا برخې غلا شوي چې په ۱۹۹۲ کال په دارالامان کې پاتې وو. پداسې حال کې چې په افغانستان کې د لرغونو آثارو غیر قانوني تجارت تل موجود و – د کابل موزیم د لازم مصؤونیت او امنیت له نښې سابقې څخه برخمن و. له جګړو څخه د مخه هیڅکله هم د موزیم آثار د تجارت له خطر سره مخ شوي نه وو. توپان او سیلاب له ۱۹۹۲ کال وروسته پیل شو. که څه هم د طالبانو له راتګ وروسته د آثارو ډیره ناځیزه برخه له منځه تللې ده. د جمهور رئیس رباني حکومت هدایت ورکړ چې پاتې آثار تسجیل شي او پخپله آثار د ساتنې له پاره له دار الامان څخه کابل هوټل ته ولیږدول شي.

د طالبانو اوسنۍ اداره ددې کار مخالفه ده او هیله لري چې دا آثار په دارالامان کې موجودې ودانۍ ته چې د توغندیو د لګېدو له کبله ورانه شوې له بیا رغونې وروسته بیر ته هلته یوسي. تر کومه ځایه چې د اوسنۍ ودانۍ اساسي بیا رغونه ډیر لګښت او زیاته بودجه غواړي، نو نه د طالبانو اداره او نه هم نړیوالې سرچینې یو هم د هغو د ورکړې تیاری لري.

د موزیم کارمندانو ته لارښوونه شوې چې هره ورځ په دارلامان کې د موزیم ودانۍ ته، پرته له دې چې د لیږدونې وسیله ورته ورکړای شي لاړ شي؛ دا اته کیلو متره واټن ووهي او دندې ته حاضر شي. له هغه ناڅیز معاش پرته چې کله کله هغوی ته ورکول کیږي، د دفتر تجهیزات، برښنا، د سون مواد، غذا او د هغوی د کار لپاره نورې لازمې اسانتیاوې نشته. ځکه نو د کابل موزیم ناڅیزه اداري، مالي او تخنیکي پالنه کیږي.

د موزیم په وړاندې دا بې تفاوتي، د ښار د نورو مهندسي میراثونو د بنسټونو په وړاندې هم شته، چې د هرې ورځې په تېرېدو سره د اختلاس او نه پاملرنې په نتیجه کې له منځه ځي. دا درک او احساس هم نه شته چې د فرهنګي میراثونو اړوند چارې او د هغو سیمه او چاپیریال یو له بل سره اړیکي لري او دا دې ویجاړ شوي ښار ټولنیزې - اقتصادي بیارغونې په ماسټر پلان کې باید شامل شي. لومړنۍ دنده کېدای شي د تیمورشاه د مقبرې اوبې ترمیم وي چې د ښار په زړه کې پروت دی. خو مقامات دې وړاندیز ته ډېره کمه پاملرنه کوي. په اوسني وخت کې داسې ښکاري چې په کابل کې د فرهنګي میراثونو ساتنه یو رسمي لومړیتوب نه لري.

د تعجب وړ نه ده چې هرات د اولیت حق لري او د زیاتو تاریخي ابداتو په لرلو سره چې ځینې یې اوس له ډېر خواشینونکي حالت سره مخ دي او د چټکې او بېړندوبې پاملرنې غوښتنه کوي - کېدای شي ځانته هڅوونکی امکان را جلب کړي. د هرات د تاریخي ابداتو د ساتنې مدیریت ښه فعال دی. خو بیا هم د لازمو مالي سرچینو نشتوالی، د کار نه سمون او فکري اختلاف په دې برخه کې د یوې روښانه ستراتیژۍ د مخنیوی نور عوامل دي.

د ودانیود بیا جوړونې کمزوري پلانونه به له لازمې اغیزمنۍ څخه

برخمن نه وي. د موزاييک د کاشي جوړولو دستگاه چې د هرات په جامع جومات کې په ۱۹٤۳ کال د هرات د تاريخي آبداتو د بيا رغونې لپاره په هغه وخت کې جوړه شوې وه، تر اوسه هم په کار بوخت ده؛ سره له دې چې د هغې فعاليت ډېر کم شوي دی. د هرات موزيم پر ۱۹۹٤ کال د اختيارالدين د تاريخي کلا په انگړ کې چې په ۱۹۷٦ کال کې د يونسکو له خوا ترميم شوې وه بيا پرانيستل شوی دی. د جگړو په بهير کې په ښه حالت کې پاتې شوی. له موزيم څخه په ښه ډول څارنه کيږي. خو خطي نسخې او آثار په تينگه ترميم او کتلاک جوړونې ته اړتيا لري. خو په خواشينۍ سره چې د دې کار لپاره روزل شوي او تربيه شوي کار کوونکي نه شته.

ځينې هغه ځانگړي آبدات چې يو وخت به د وياړنو د ځرگندونو بازار و، تر اوسه هم پاتې دي. د لومړي هدف لپاره دويم ځل د دې ودانيو د بيا پرانيستلو هيڅ هڅونکي نه ښکاري. د هرات د زاړه ښار په زړه کې د «چهارسوق» حوض په اسانۍ سره کيدای شي ترميم، او د مختلفو مقصدونو لپاره ترې گټه پورته شي. خو په خواشينۍ سره چې وچ او د هېريدو او نه پاملرنې په حالت کې مخ په ورانيدو دی. د هرات د کاروانسرايونو چې يو وخت د پيړيو په اوږدو کې د سوداگرۍ مرکزونه گڼل کيدل، د هغو پر ځای له ختيو څخه، څو پوړيزه ودانۍ د راکړې ورکړې د مرکزونو په توگه جوړې شوي چې د هغو علت کېدای شي د اوسني هنري ليد فقر او خلا وگڼل شي. پر همدې بنسټ ويلای شو چې د هنري پديدو زيرونه او هستوونه د محوه کيدو او له منځه تلو په حال کې دي.

دا خبره مشکله ده چې وويل شي د ۱۹۹٦ کال په اوړي کې په مزار شريف کې د حضرت علي (رض) د مقبرې د بيا ښکلا لپاره د خوځون او نوښت انگيزه څه وه؟. د روضې د ترميم کار د يو لوړ رتبه پوځي افسر له

خوا ځارل کېده. د تاریخي آبداتو د ساتنې مسلکي او با تجربه غړي د خپلو مسلکي معیاري کارونو د پرمخ بیولو لپاره ډېر کم وا ک هم نه لري. یو ځای د موزیم لپاره ټاکل شوی، خو کوم متخصص نشته چې د هغه چارې پر مخ یوسي.

روزل شوې بشري سرچینې:

د هغو متخصصینو کمښت او خلا په ټولیز ډول محسوسیږي چې کولای شي له نړیوالو منل شویو معیارونو سره سم د آبداتو ترمیم او ساتنې ته دوام ورکړي. هغه کسان چې له جګړې څخه د مخه روزل شوي او زده کړې یې کړې وې، هیواد یې پرېښود، یا ګوښه کړای شول او یا په یوه کونج کې له اداري، مالي او تخنیکي ملاتړ پرته کیناستل او د هغو پر ځای بې تجربې او بې تحصیله کسان کینول شول. په کابل پوهنتون کې ددې اړوند څانګه تړل شوې ده. تر اوسه پورې د افرادو د پیدا کولو او تر ټولو مهم دا چې ددې برخې د بیلا بیلو څانګو د ځواکمنۍ او مسلکي ظرفیت د ټاکنې لپاره هیڅ ډول هڅه تر سره شوې نه ده او مشکله ده چې ددې ډول اشخاصو امکانات او رهزرفونه پیدا شي چې تر کومې اندازې پورې موجود دي. دا ډیره مهمه دنده ده چې ضرور باید پرهغې کار وشي. ددې واقعیت په رڼا کې چې اوسني محصلین په انګلیسي ژبه نه پوهیږي نو د هغو هڅو امکان یې له ستونزو سره مخامخ کړی چې د هغو په پایله کې نوي کادرونه له افغانستان نه بهر وروزل شي. ځکه نو د افغانستان په دننه کې باید د عملي مسلکي کورسونو د جوړولو لټه وشي. مقامات په پرنسیپ کې له دې اصل سره موافق دي، خو له ښښو ښښانو څخه ښکاري چې هغوی په دې برخه کې چندان پاملرنه نه کوي. دا ډول بې تفاوتۍ دا پوښتنه راپورته

کوي: هغه کسان چې له دې کورسونو څخه فارغیږي، کولای شي کوم کار تر سره کړي؟

## د ټولنې د مسوولیت احساس:

په اوسني وخت کې د فرهنګي میراثونو په اړه رښتیني رسمي تړونونه د پوښتنې وړ دي، ځکه تر هغه وخته پورې چې د افغانستان د شخړې سیاسي حل د پوځي مسایلو په ابهام او چلند کې لومړیتوب لري، پداسې حالاتو کې باید ولیدل شي چې د عامو پراخو پرګنو په منځ کې څه امکانات او ریزرفونه شته دي.

لکه څنګه چې په لست کې شامل دي، په ټول افغانستان کې یو شمیر اسلامي زیارتونه د خلکو له خوا تر څارنې او ترمیم لاندې نیول شوي، او په ښه ډول ساتل شویدي. په هرات کې چې زیاته پانګه شته، د جوماتونو او زیارتونو جوړول او ترمیمول په ټولنه کې د مذهبي عقیدې او اخلاص د څرګندونې یو ډول دود ګرځیدلی دی. البته هغه کسان چې د آبداتو د ساتنې او نوي کولو په اړه له پوهنیزو معلوماتو څخه بې برخې وي، اغلباً د ګټور کار پر ځای زیان رسوي.

له یوې تاریخي آبدې څخه د بلې تاریخي آبدې د ترمیم لپاره د تعمیراتي موادو لیږدول او د سمنټو د زیاتې اندازې کارول په دې برخه کې د حل اساسي لار او لازم ځواب نه دی. کوم شی چې د اړتیا وړ دی هغه د تجهیزاتو او پوه متخصصینو په واسطه د مجهزو ارګانونو تأسیسول دي چې د خلکو لیوالتیا پر یوه پراخ عملي پلان باندې تطبیق کړي.

د غلا شویو آثارو د کشف په برخه کې کولای شو د خلکو د هڅو بیلګې راوړو. په ۱۹۹٤ کال کې د سلطان محمود غزنوي په قبر پورې

تړلې د مرمرې ډبرلیک یوه لوحه د هغې له غلا څخه لس ورځې وروسته په دقیق ډول هغه وخت چې له سرحد څخه اړول کیدله، د ذیعلاقه کسانو له خوا کشف او نیول شوه. له دې پرته یو زیات شمیر خلکو په ۱۹۹۵ کال د غلا شویو آثارو او د هغو د بیا راټولونې لپاره د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ. هغه له کابل راډیو نه د خپلې وینا په ترځ کې په لوړ غږ وویل: «خلکو په ټول ژوند کې هڅې وکړې چې ښکلا وزیږوي، په داسې حال کې چې یو شمیر نورو د هیواد والو د خوښې په مقصد د دې ښکلا د ساتنې لپاره خپل ژوند وقف کړي، خو اوس ځینې انسانان دا تاریخي پدیدې او تخلیقات د خپلو شخصي ګټو د پوره کولو په نیت لوټوي. هغه څرګنده کړه چې د یوې ټولنې د ټولو روغو وګړو رسالت دی چې د خپلې ټولنې د غلا شویو تاریخي آثارو په وړاندې خپل مسوولیت تر سره کړي او هغه د افغانستان د فرهنګي او تاریخي آثارو د ساتنې او راټولونې ملي کمیسیون ته وګرځوي او یو څه ناچیزه مادي انعام تر لاسه کړي. په پایله کې د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې آثار تر لاسه شول.

البته دا دوزک شویو آثارو ډیره کمه برخه ده. خو یو شی یې په ډاګه کړ او هغه دا چې دا ډول غوښتنې کیدای شي اغیزمنې او بې له شکه ارزښتمنې وي. ځکه چې د هیواد لرغونې سیمې – د غیر قانوني پلټنو په اثر په منظم او سیستماتیک ډول تالان شوې دي. د تخار ولایت د آی خانم، د بلخ زوړ ښار، د ننګرهار ولایت هډه د هغو، دري غوره بېلګې ګڼل کیدای شي.

له یوې سیمې څخه چې تر اوسه یې لا هویت څرګند شوی نه دی، د اوازو له مخې یوه زیاته اندازه د سرو زرو آثار کشف شوي دي. یوه له دې سیمو څخه کیدای شي په ۱۱ میلادي پیړۍ کې د سلطان سنجر مقر وي

چې د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ ته نږدې دی. ویل کیږي له دې ځایه د غیر قانوني پلټنو په پایله کې تر ځمکې لاندې له پنځه ویشت متره ژوروالي څخه د سرو زرو مرصع تاج، د سپینو زرو یوه مرصع کوزه، زیات شمیر مجسمې، لوښي، لاجورد او د سرو زرو دوه کیلوګرامه پوډر تر لاسه شوي دي. دا چې رښتیا دي که نه؟نه پوهیږم. د پوهانو لپاره یو بل ارزښتمن کشف پر ۱۹۹۳ کال د پلخمري په شمال کې د رباطک له پلټنو څخه د باختري ډبر لیک تر لاسه کېدل دي. د پوهانو په اند دا ډبرلیک په دویمه میلادي پیړۍ کې د کنشکا په نوم د کوشانیانو د دین او تاریخ په نوم معلومات لري، او د کوشانیانو د عصر په باب د تولنیزې ښا کتنې سبب کیدای شي.

موږ به هیڅکله هم پوه نه شو چې په دقیق ډول کوم شیان له دې ځای څخه ورک شوي دي. خو کوم شی چې موږ زیات خواشیني کوي د دې سیمو علمي څرګندونې او مدارک دي چې هیڅکله د هغو په کشف نه بریالي کیږو. دا زیان جدي او نه جبرانېدونکی دی، ځکه چې هنري هستونې هېڅکله په یوه تشیال (خلا) کې را منځته کېدای نشي.

د یو لرغوني فرهنګ د ژوندي پاتې کیدو په باب پر کوم څیز باندې چې باید پوه شو هغه دا دی چې اثار یې باید په همهغه سیمه کې مطالعه شي. د افغانستان د ډېرو لرغونو سیمو په باب نور دا امکان له منځه تللی دی، او په پایله کې یې علمي کار ته ستر زیان رسیږي.

د کابل د موزیم یوه بې ساري ځانګړنه دا وه چې د هغه ټول کلکسیونونه د پوهنیزو پلټنو په نتیجه کې منځته راغلي او څېړل شوي وو. همدا رنګه د هغه زیات آثار بې مثاله او بې ساري وو، نه یوازې دا چې کولای یې شول د افغانستان د کلتور او تاریخ په ښه پوهیدنه بلکې د نړۍ

په فرهنګي میراثونو کې مرستندوی او ګټور ثابت شي. تالانګر او غله د ګناه او پښېمانۍ هیڅ ډول احساس نه کوي. هغوی یوازې د پیسو لپاره دا کار سر ته رسوي. هغه بهرنیان چې د افغانستان د تاریخي او فرهنګي آثارو پر ارزښت پوهیږي او د آثارو د سوداګرۍ له ارزښت څخه خبر دي - د دې اشخاصو د پیسه دوستۍ له انګیزو څخه ګټه پورته کوي. معامله کوونکي کوم پرنسیپ نه لري او د نړیوالو کلیکسیونرانو د هیلو په پام کې نیولو سره د نویو را پیدا شویو غلو او خپلو افغان اجنټانو له حرص سره یوځای هماهنګ عمل کوي. د غلا شویو آثارو له خطرناکو او روزل شویو نړیوالو شبکو سره په ټینګه اړیکې لري. پدې کې په مختلفه کچه د دولتي ادارو فاسد کارکوونکي هم برخه لري او له پاکستان څخه تر اروپا، جاپان او امریکا پورې همدا عملیات تر سره کوي.

ربنتیا خبره دا ده چې د ستونزې د څېړنې او بنسټیز حل لپاره د افغانستان مسوولې دولتي ادارې ډیر لږ خلک هڅوي چې خپلو ویاړلو بډایو میراثونو ته پاملرنه وکړي. د پوهانو او علماوو کړۍ خلکو سره ډېر لږ خپله پوهه شریکوي؛ په هیڅ ځای کې د ښوونځي زده کوونکو ته د خپلو تېرو فرهنګي بډاینو په باب، څه نه ورښوول کیږي.

په هېواد کې له جګړو څخه د مخه وختونو کې ډیر کم شمېر ځوانان له کابل موزیم څخه د لیدلو په فکر کې وو. اوس د هېواد ځوان نسل ښت اکثره له هیواد څخه بهر په جلا وطنۍ کې ژوند تېروي او د هغو ارزښتونو او مفاهیمو په باب چې یو وخت به په هیواد کې موجود وو پر هیڅ شي نه پوهیږي.

دا یوه سخته ماتې ګڼل کیږي او د یوې ملي ستراتیژۍ د نشتوالي له کبله هیڅ یو تحصیل کړی مسلکي شخص په یوازې ځان او د عامه افکارو

له همدردۍ او درک پرته نشي کولای په اوسنیو شرایطو کې د ښه والي لپاره هیله ولري.

په ډېرو برخو کې د مالي سرچینو د پیدا کولو په اندول، پر فرهنگي میراثونو باندې د خلکو د پوهېدو کار مشکل دی. په نورو هیوادو کې هغه وخت چې چټک اقتصادي پرمختگ، ښاري کیدنه او کورني کړکیچونه د دې سبب کېږي چې د فرهنگي اثارو په وړاندې بې تفاوتي څرگنده شي، مختلفې ډلې د فرهنگي او تاریخي اثارو د له منځه تلو د مخنیوي په خاطر جوړېږي. کولای شو له هغو څخه بې زده کړو ؟ له اوسنیو اړتیاوو سره سم باید په ټولو سطحو کې د پریکړو د سرته رسولو لپاره یو لړ غونډې او ورکشاپونه په پام کې ونیول شي.

د عامه افکارو د پوهې لوړتیا د دې غوښتنه کوي چې سیمه ایز اوسیدونکي د ساختماني د پلان جوړولو او د اوسیدو د چاپیریال له متخصصینو او دولتي کارکوونکو، غیر حکومتي سازمانونو، د ماینپاکۍ له گروپونو، له نړیوالو دونرانو او متخصصینو سره یوځای شي. که چیرې د خبرتیا لپاره دا لیوالتیا په عمل کې پلې شوه، په هغه صورت کې باید تحصیل کړی پرسونل په دې برخه کې تیاری ونیسي.

بې له شکه خنډونه شته. په دولتي دستگاه کې یو شمیر کسان، غیر حکومتي سازمانونه، ټولنې او دونران د فرهنگي میراثونو د له منځه تلنې پر جدي خطر باندې بو شان خبر نه دي او فرهنگي مسایلو ته د لومړیتوب په سترگه نه گوري. ان دا چې ځینې په بشپړ ډول د فرهنگي فعالیتونو د پراختیا او ساتنې لپاره د بودجې د لگښت مخالف دي او بشري مرستو ته د لومړیتوب حق ورکوي او پدې برخه کې پیسې لگوي. خو بیا هم د خوشالۍ ځای دی چې د ځینو استثنا آتو یادونه وکړم او د ماین پاکۍ له

ځینو مؤسسو او د ملګرو ملتو د بشر د اسکان له مرکز- هبیتات څخه د فرهنګ په برخه کې د مرستو او پر له پسې ملاتړ له امله مننه وکړم.

په هر ډول باید موږ داسې افغانان نه یوازې د افغانستان په د ننه بلکې په اروپا ، امریکا او پاکستان کې ولتیوو چې یو روښانه لید او له خپلو فرهنګي میراثونو سره مینه ولري او پدې برخه کې ځواکمنه مبارزه وکړي. دا یوه مهمه اړتیا ده. یوازې قانون او روزنیز پروګرامونه به د علاقمند شخص له لارښوونې پرته هیڅ ډول اغیز ونه لري.

له مثبتو عواملو څخه یو دا دی چې نړیوال سازمانونه د مخه شوي او حاضر دي چې پدې برخه کې مرسته وکړي. پدې موسسو کې یونسکو ، د موزیمونو نړیواله شورا (ایکوم) ، د فرهنګي ملکیت د ساتنې او ترمیم نړیوال مرکز (آیکروم) او د جاپان د مسلکي انجمن یو ډله شامل دي. په ورته ډول د یونسکو مربوط د فرهنګي میراثونو نړیوالې کمېټې په ۱۹۹۷ - ۱۲ -۸ نیټه د افغانستان د فرهنګي میراثونو په اړه یو پریکړه لیک تصویب کړ. په هغه کې د افغانستان فرهنګي میراثونو ته د متوجه ګواښونو په باب خواشینې ښکاره شوې وه او له مقاماتو څخه غوښتل شوي چې دا میراثونه وساتي او له نړیوالو ټولنو څخه غوښتنه کوي چې ټول لازم امکانات بې په واک کې ورکړي. داسې لارې باید ولټول شي چې له دې وسیلې نه ګټه پورته کړو او لېوالتیاوې په کار واچوو.

په مختلفو لوریو کې د دفاع او تبلیغ په کارول، د اړتیاوو په سر کې راځي. د دې هدف لپاره پر ۱۹۹٤ کال په اسلام آباد کې د افغانستان د فرهنګي میراثونو د ساتنې انجمن (SPACH) تأسیس شو. د سپک SPACH لومړنی هدف دا و چې د هیواد په د ننه او له هغه څخه بهر ، انفرادي اشخاصو، سازمانونو او مؤسسو سره د اطلاعاتو راکړه ورکړه

وکړي او اړیکي ورسره ټینګ کړي. د خپلو غړو د همکارۍ په واسطه یې وکړای شول چې د موزیمونو، لرغونو سیمو، تاریخي آبداتو، آثارو او معمارۍ له وضعیت څخه د عکاسۍ یو کتلاک برابر کړي.

د موزیم د پاتې آثارو د تثبیت او راجستر تر څنګ د موزیم لپاره په بیړنیز ډول د امنیتي آسانتیاوو برابرول تر لاس لاندې ونیول شول. دوی د سروې او څیړنې له هیئتونو سره مرسته کوي. د مطبوعاتو او عامه مبلغینو له لارې پراخو عامه اړیکو ته وده ورکوي. د افغانستان د فرهنګي او تاریخي میراثونو د ساتنې انجمن APGOH چې د افغانستان له مسلکي شخصیتونو څخه جوړ دی، په ۱۹۹۷ کال کې له پلان وزارت سره ثبت او راجستر شو.

## د قانون څېړول او تطبیق:

په افغانستان کې د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې لپاره په نړیواله سطحه زیات غړونه پورته شول. د افغانستان لپاره د بشر د حقوقو په چارو کې د ملګرو ملتو ځانګړي استازي د ملګرو ملتو د بشر د حقوقو ځانګړي کمیسیون ته د خپل راپور د وړاندې کولو په وخت کې د بشر له حقوقو څخه د اساسي تخلفاتو په توګه په پرله پسې ډول د افغانستان د فرهنګي میراثونو د لوټ او تالان یادونه کړې ده.

د ملګرو ملتو عمومي جرګې د ۱۹۹۷ کال د فبرورۍ په ۱۳ د افغانستان په باب په اړوند پریکړه لیک کې د سولې او فرهنګي ملکیت تر منځ پر مستقیم ارتباط ټینګار وکړ. د خپلې غوښتنې د تکرار په دوام کې یې د افغاني ډلو د موافقې غوښتنه وکړه چې د افغان ملت د فرهنګي میراثونو د غلا د تولوډولونو، ناوړه عملونو، او ناجایزه استفادې مخه

ونیول شي او ودرول شي.

دافغانستان تېرو حکومتونو په دې برخه کې په بشپړ ډول مناسبې هڅې ترسره کولې.

د کابل موزیم د موزیمونو د نړیوالې شورا بشپړ غړی او له نړیوالو معیارونو سرد سم یې ټول هغه قوانین او مقررات چې ددې شورا له خوا په ځانګړي ډول د ګمرکي مقرراتو د درناوي په برخه کې و منلې او هم یې د مشکوکو او بې اسنادو اثارو له تاوان پرته ضبط او نیولو څخه پیروي کړې او هغه یې په عمل کې پلې کړي دي. د تاریخي او فرهنګي اثارو قانون په ډاګه څرګنده کړې ده چې منقول او غیر منقول آثار که پلټل شوي او که تر خاورو لاندې دي- د افغانستان په خلکو پورې تړلي دي. خلک او حکومت د هغو د ساتنې مسوولیت لري. نوموړي قانون په تاریخي ساختمان کې هر ډول بدلون منع کړی او ساختماني موسسې یې مکلف کړي چې که چیرې یو تاریخي اثر او لرغونې ساحې ته د کار د کولو په وخت کې زیان رسیږي- مجبوره دي د بنسټیزې چارې تر پیدا کولو پورې کار ودروي. کله چې پلخمري ته نږدې د سرخ کوتل د کوشانیانو معبدد سړک د جوړیدو په وخت کې ولیدل شو چې په یوناني لیک هلته ډبرې موجودې دي، نو په علمي ډول و پلټل شو.

د غه راز قانون حکم کړی چې په شخصي ځمکو کې پیدا شوي تاریخي آثار د خلکو ملکیت دی او اشخاص د هغو د خپلونې حق نه لري. البته دا پر وړو آثارو باندې تل د تطبیق وړ نه دی. خو کولای شي د لویو ساحو لکه د میرزکې د خزانې په وړاندې ډراماتیک بریالتیوب ولري. که څه هم میرزکې په ډاګه کړه چې څنګه د غیر قانوني فعالیتونو په وړاندې د قانون تطبیق له ماتې سره مخ شو. پدې قانون کې د غلا شویو

آثارو د مخالفت په اړه مهم مطالب ځای شوي دي. د ۱۹۴۷ کال په مې کې د پکتیا د گردیز د شمال ختیځ ۵۳ کیلومترۍ د میرزکې په کلي کې په یوه ځای کې د کشف شویو مسکوکاتو د یوې لویې برخې د ناڅاپي کشف خبر کابل ته ورسېد. د ساحې د څېړنې لپاره د ملي موزیم لیږل شوی هیئت د ۱۲ زرو هندي، یوناني، گریکو-باختر، اندوگریک، اندویتي، اندو-پارتي او کوشاني مسکوکاتو پر کشف بریالی شو. د هغو تاریخ له څلورمې قبل المیلاد پېړۍ څخه د میلادي پېړیو تر لومړیو پورې رسیده. وضع شوی قانون په میرزکه کې د مسکوکاتو د غیر قانوني راټولونې د ودرولو سبب شو.

پر میرزکې باندې دویم برید په ۱۹۹۲ کال کې هغه وخت ترسره شو چې د کلي په شاوخوا کې استوگنو خلکو په ډله ایز ډول پریکړه وکړه چې په ډېر سیستماتیک ډول له سره کیندنې پیل کړي. یوه دولس کسیزه کمیټه جوړه شوه چې د پلټنو سرپرستي وکړي او له پاکستاني معامله کوونکو سره خبرې اترې پر مخ یوسي او د هغو له خرڅلاو څخه لاس ته راغلې گټه د کلي پر خلکو وویشي. د کلي خلکو هر یوه د کیندنو د لگښت لکه ډیو جنراتور، واټر پمپ او بشري ځواک د اخیستلو لپاره پنځوس زره پاکستانۍ روپۍ لگولې وې. میرزکه د بشر پواسطه د مسکوکاتو یو ډېر لوی دفن ځای دی.

دا خزانه له دوو څخه تر دریو ټنو سروزرو، سپینو زرو او برونزي مسکوکاتو څخه جوړه وه. پرته له دې د گزارش له مخې پدې خزانه کې د ۲۰۰ کیلو گرامه په شاوخوا کې د سرو او سپینو زرو شیان لکه گاڼې، جامونه او مجسمې هم وې چې په ډېره چټکۍ سره د کلیکسیونرانو او بهرنیو معامله کوونکو په لاس مخکې تردې چې پوهان د هغوی هویت

تثبیت او مطالعه کړي لا درک شول.

دا آثار د معامله کوونکو په لاس په یوه ډیره ګرانه او لوړه بیه په پیښور او اسلام آباد کې وپلورل شول. خو له هغو څخه د لاسته راغلو پیسو ډیره لږه برخه بیرته میرزکې ته لاړه. په حقیقت کې اصلي پانګه اچوونکو په ډیرې سختۍ سره وکړای شول د خپل لګښت جبران وکړي او ډیره لږه ګټه ورڅخه لاسته راوړي. دا عمل د قبیلې د خلکو په منځ کې د سختې بې اتفاقۍ او اختلاف سبب شو. رسمي او دولتي مداخله لکه څنګه چې په ۱۹۴۷ کال کې شوې وه و نه شوه او آن دا چې د دولت له خوا د هیڅ ډول څارنې امکان نه و. سره له دې چې د پروفیسور رباني حکومت د لرغونپوهنې انستیتیوت ته لارښوونه وکړه چې سیمې ته یو هیئت ولیږي او د پلټنو مخنیوی وکړي. د لرغونپوهنې مدیر یادونه وکړه چې په پکتیا کې حکومتي اداره دومره کمزورې وه چې وې نه کړای شول د لرغونپوهنې د هیئت لپاره یو شمیر ساتونکي برابر کړي. په ۱۹۹۷ کال دا پلټنې ودرول شوې. طالبانو ځان د دې کار د اجرا مدعي وښود. خو حقیقت دا دې چې د پلټنو د چارو د پانګه اچوونکو کمزورتیا او د جنراتورونو او مزدورکارانو د فعال ساتلو لپاره د بودجې کمښت او تر ټولو مهمه دا چې د کشف شویو شیانو د ګټې د ویش پر سر د قبیلې د خلکو تر منځ د اختلافاتو زیاتوالی د دې کار اصلي علت و.

بیا هم بیرته دې ته راځو چې آثارو ته د زیان رسولو د مخنیوي او ممانعت او یا لږ تر لږه د لرغونو ساحو د تخریب د کمولو لپاره څه ډول ګډ قانوني عمل وکاروو ؟ په خواشینۍ سره دا واقعیت مو مخې ته ودریږي چې افغاني ادارې د خپلو قوانینو له حوزې څخه بهر پر غیر قانوني فعالیتونو باندې ساده کنترول هم نه لري. د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې

په باب پر له پسې دولتي اعلامیو کوم څرګند اغیز شیندلی نه دی. طالبانو د پخوانیو حکومتونو ټول نافذ قوانین ملغی اعلان کړي، خو د غلا شویو آثارو د بیا لاس ته راوړنې او ساتنې ،د لرغونو سیمو او د عامه پانګې د تثبیت په باب ابلاغیې بې له پخوانیو قوانیو سره سمون خوري. څو آثار ونیول شول خو د موزیم د آثارو د بیرته ګرځونې په اړه د هغو د اعلامیې په ځواب کې کوم عکس العمل نبودل شوی نه دی. هغوی د مکافاتو پرځای د شرعي سزا د ورکړې ژمنه کړېده. د پلټونکو حرص او طمعې ژوندی دي. له اجرائیوي ضمانت پرته یوازې تشې ابلاغیې کولای شي معکوسې پایلې منځته راوړي.

د کابل اداري د جلال آباد په غوچک کې د غیر قانوني کیندنو په باب چې د بي بي سي راډیو له خوا په دې اړه تبلیغات ترسره شول- د شریعت راډیو له لارې له ټولو خلکو څخه غوښتنه وکړه چې لرغوني آثار په خلکو پورې اړه لري او هغه شیان چې تر لاسه کیږي باید دولتي مقاماتو ته تسلیم شي. د اعلامیې له خپریدو څخه یو داونۍ وروسته پدې سیمه کې ټول شیان لا درک شول.

همدا راز ستونزې هغه وخت لا سختیږي چې له هغو طالبانو سره مخامخیږو چې لوړې زده کړې نه لري او د ژوندي انسان د عصري تصویرونو د ممنوعیت د فرمان او د هغه فرمان چې د ملت د میراثونو د غلا، زیان رسولو او غصبولو د مجازاتو په اړه دی توپیر نه شي کولی. په همدې اړه د ساري په توګه کېدای شي د یو طالب قوماندان د هغو څرګندونو یادونه وشي چې د بامیانو د محاصرې په وخت بې په ۱۶/٤/۱۹۹۷ نبټه کړې وې چې د بامیانو د سیمې له فتحې وروسته به د بودا «بتان» والوزوي. د نړیوالې ټولنې، د ملګرو ملتو سازمان د سر

منشي او د یونسکو د عمومي مدیر د ټینګ عکس العمل په وړاندې د هماغه کال د اپریل په ۲۸ په کندهار کې د طالبانو مشرتابه یوه بیانیه خپره کړه چې د بامیانو د بودا الوزول یې رد کړي وو او یوځل بیا یې ژمنه وکړه چې ټول لرغوني میراثونه ساتي. دا چې د طالبانو لیکې په بشپړ او درست ډول د هغوی د پیغامونو پر محتوا او مانا پوهیږي او که نه د تشویش وړ بله مسئله او عامل دی.

څرګنده ده چې په افغانستان کې د یوې مسوولې او اغیزمنې اداري نشتوالي زیاتې ستونزې او مشکلات را منځته کړي او د یوه با ثباته مرکزي حکومت تر جوړیدو پورې به د هغو حل تقریباً ناممکن وي. ضرور ده و پوښتل شي هر کله چې آثار له هیواد څخه بهر ته ایستل کیږي، باید څه ترسره شي؟ په نړیواله کچه هم ورته خنډونه شته. یو شمیر سازمانونه او مسلکي دولتي اداري تیار دي چې د ورکو شویو آثار په پلټلو کې مرسته وکړي، خو څرنګه چې افغانستان په ۱۹۷۰ کال کې د فرهنګي ملکیتونو د غیرقانوني لیږدولو، واردولو او صادرولو د مخنیوي او منع کولو لپاره د یونسکو کنوانسیون لاسلیک کړی نه دی، نو نه شي کولی پدې برخه کې کوم کار وکړي. د رباني له حکومت څخه زیاتې غوښتنې وشوې چې له هغه سره یوځای شي، خو د کابل سیاسي صحنې ته د طالبانو په راتګ سره دا کار بریالیتوب ته و نه رسیده. تر اوسه پورې د ملګرو ملتو سازمان طالبان په رسمیت پیژندلي نه دي. ځکه نو پدې برخه کې زیات کار تر سره کیدای نه شي.

ان له قانوني ملاتړ پرته، ډیر او له حده زیات کار ته اړتیا ده چې د حقوق پوهانو، قضاوت او دا چې په افغانستان کې څه تیریږي د ګمرکي سرچینو احساس راوپارول شي. د لویدیځو هیوادونو پیچلي قوانین ګډې

PROPERTY OF ACKU 7592



وړې پا يلې لري. د ۱۹۹۷ کال په اوکتوبر کې يوې برېتانوي محکمې پريکړه وکړه چې کله چېرې د باګرام د عاج دوه ټوټې د ګمرک په واک بريتانيې ته داخل شي هغه به د (فيلانو) د ملاتړ په باب د اروپا د سوداګرۍ د ټولنې د تړون له مخې مصادره شي. پدې پريکړه کې پدې باب چې نوموړې آثار د زرو کلونو قدامت لري او د کابل له موزيم څخه غلا شوي هېڅ ډول يادونه نه ده شوې. د آثارو پاکستاني مالک، هغه بيرته پاکستان ته راوړل او اوس په دې غلا شويو آثارو باندې د پېسو د لاسته راوړلو په لټه کې دی.

په دې ډول په لنډه موده کې زياد شمير اړوند و بااحساسه افغان شخصيتونو ته د ګنو پراخو هڅو د پيلولو مسووليت راجع کيږي.

د دې ليکنې له غمجنې محتوا سره سره بيا هم دا ليکنه د بيړنيو هڅو د کولو امکان دی چې وکړای شي يو داسې تهداب او بنسټ کيږدي چې د هغه له مخې له محتوا ډکه کړنلاره پرې جوړه شي. دا لومړيتوبونه کېدای شي په لاندې ډول په ګوته شي:

لومړيتوبونه:

له لاندې لارو څخه په ټولو سطحو کې د افغان مسؤلينو ترمنځ د دفاع احساس.

- انفرادي اړيکي.
- سيمينارونه او ورکشاپونه.
- د ځانګړو خواوو په اړه خپروني.
- د خپلو مسوليتونو د منلو او په مختلفو برخو کې د بنسټيزو تجهيزاتو او وسايلو د برابرولو او موندلو په چارو کې د

افغانستان د رسمي ادارو هڅونه.

- د رغوونکو کړنو پر بنسټ د ستونزو د حل لپاره د ستراتېژۍ او نوښت د جوړولو د ډاډ په نیت د نویو معیارونو او پالیسیو طرح او د دې طرح شویو معیارونو او پالیسیو د پلي کېدو لپاره د نویو او ضروري ارقامو راټولول.
- په نا مناسبو ځایونو کې د فرهنګي ملکیتونو د بیځایه کېدو مخنیوی.
- د ښوونځیو په تعلیمي نصاب کې د فرهنګي میراثونو په اړوند د موضوعګانو ځایول.
- د کادرونو د روزنې په برخه کې هڅونه چې د ساتنې او ترمیمونې خدمتونه ترسره کړي.

د هیواد په دننه کې باید افغاني ټولنې وهڅول شي چې:

- د ژورو لیوالتیاوو او نوښتونو لپاره ځینې ډلې په کار واچوي.

د ورکشاپونو، د لکچرونو د ورکولو، د ننداړتونونو د جوړولو، د راډیویي پروګرامونو او د ساده او عام فهمه خپرونو له لارې د عملیاتي ګروپونو او روښنفکرانه همکاری راجلب کړي.

په بهرنیو هیوادونو کې د افغاني ټولنو لپاره:

د افغانستان د هغو غلا شویو آثارو لپاره چې په بهرنیو هیواد کې پلورل کیږي د هغو په وړاندې د یو ځواکمن کمپاین له لارې د مېشتو زړه سواندو او پوهو افغانانانو تشخیصول.

- په کومو هیوادو کې چې دوی میشته دي د هغو هیوادو له څېړنیزو

ادارو سره د هغو آثارو د بيرته راګرځوني په باب د اړيکو ټينګول
چې په غير قانوني ډول د افغانانو او يا بهرنيانو پواسطه هلته
وړل شويدي.

د بهرني و حکومتونو ، غيردولتي سازمانونو او دونرانو دندې
دادي:

- د نړيوالو فرهنګي سازمانونو د اعلاميو او څرګندونو څارنه او له هغو سره د ليوالتيا ښکاره کول.
- د فرهنګي ميراثونو او د ژوند د چاپيريال د ساتنې د هڅوونکو شبکو ټينګښت او پياوړتيا.
- پدې باب د پوهې زياتول چې فرهنګي ميراثونه د ژوند د ښه والي او څرنګوالي په لار کې خدمت کوي.

د معلوماتو راټولول:

- د پوهو او مسلکي اشخاص تثبيتول.
- له فرهنګي ملکيتونو او سيمو څخه د ډاډمنو ارقامو راټولول.
- د بيړنيو ترميماتي اړتياوو په باب معلومات.
- د ابداتو او سيمو د لست ثبتول او برابرول.
- په کتابتونو کې د ورک شويو آثارو پر ځای د نويو آثارو ايښودل او د هغو د ځای ډکول.

د معلوماتو خپرول:

- د ټولو ډله ايزه اطلاعاتي وسايلو ، مجلو ، خپرونو ، پوسترونو ، ټلويزيون ، راډيو په کار اچول ، د لکچرونو ورکول ، سيمينارونو

او ورکشاپونو جوړول.

- له تصويرونو سره په پښتو او دري ژبو د ساده موادو چاپول او د ښو معلوماتو خپرول.

د کادرونو روزل:

د روزل شويو کادرونو د هويت ټاکنه او تثبيت.

- د موزيم، ارشيف او د تاريخي ابداتو د سروې د ترميم د کارکوونکو لپاره د اساسي کورسونو جوړول.

- له پوهنيزو او څېړنيزو تجهيزاتو او موادو سره د آشنايي لپاره د انګليسي ژبې زده کړې او مطالعې ته د ټاکلو اشخاصو هڅول.

- د تخنيکي وسايلو د کارونې او د چارو د ښه کولو له لارې د فرهنګي ميراثونو د دفاع لپاره له سيمه ايزو رضاکارو ډلو سره همکاري.

د متخصصينو تبادله:

- د نړيوالو شبکو له لارې د با اهميته ترميماتي کارونو لپاره د لر ليدونو (دورنماوو) تر لاسه کول.

- د اشخاصو او اسنادو د يو معلوماتي جدول ترتيبول.

د پورتنيو ټولو هدفونو لپاره د مالي پانګې برابرول:

دې لوموړيتوبونو ته د پاملرنې راګرځول به زيات وخت و غواړي چې د بې تفاوتۍ هغه واکمن سيوری له منځه يوړل شي چې د اکثريت اندود (د فکر طرز) يې کرخته کړی دی او فکر کوي چې له دې خنډونو څخه تېريدل

ناممکن دي او ځاني هڅې بې ګټې دي.

په واقعیت کې ستونزې ډیرې ژورې دي، خو کوچنی هڅې کولای شي د افرادو د الهام لپاره داسې یو مناسب او دوستانه چاپیریال-رامنځته کړي چې له ماضي څخه خبر شي او د راتلونکو فرهنګي لاسته راوړنو لپاره لارې چارې برابرې شي.

د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې لپاره د مثبتو لارو رامنځته کول د چاپیریال او سیمې د ساتنې باعث کیږي او په پای کې د فرهنګ او چاپیریال په باب د هر اړخیزې ملي پوهې د احساس د ویښیدو سبب ګرځي. په لاندې ډول ترې په انتخابي توګه یادونه کیږي:

د لرغونو سیمو او تاریخي ابداتو د لومړیتوبونو اوسنی وضعیت:

د تاریخي ابداتو، د لرغونو ساحو د اثارو او مهندسی په باب د معلومات سرچینې د سپک (SPACH) د عکاسی کتلاکونه دي.

موزیمونه:

د کابل موزیم: په ۱۹۹۲-۱۹۹۶ کلونو کې په هر اړخیز ډول لوټ شوی دی.

د هډې غیر منقول موزیم: په ۱۹۸۱ کال کې د جګړو له کبله ویجاړ او له هغه وروسته تالان شوی دی.

د غزني اسلامي موزیم:

۱۶م پیړی اړوند د یوی تیموری مقبری آثار د جګړو په وخت کې کابل موزیم ته انتقال شوی و مګر د آبده تعمیر د نه پاملرني په علت

د نړیدو په حال کی دي.

د هرات موزیم: په ۱۹۹٤ کال کې د هرات په بالاحصار کې بیا پرانستل شو. خو د هغه اثار په دقیق ډول تنظیم شوي نه دي.

مرکزي افغانستان:

بامیان:

د لویو مجسمو په ګډون له دریمې څخه تر اتمې میلادي پیړۍ پورې بودایي مجتمع په مناسب حالت کې دي. دیوالي نقاشي د طبیعي پیښو له ګواښ سره مخ شوې او د بیړنۍ پاملرنې غوښتنه کوي.

غزني:

له دریمې میلادي پیړۍ څخه تر اتمې میلادي پیړۍ اړوند د سردار تپې بودایي مجتمع چې د ایټالیانو له خوا یې پلټنه شوې وه د له منځه تلو په حال کې ده.

د سلطان محمود غزنوي (۹۹۸-۱۰۳۰م) د مقبرې حالت ښه دی.

په ۱۲ میلادي پیړۍ پورې اړوند د غزنویانو د دورې د دریم مسعود ماڼۍ چې د فرانسویانو له خوا کیندل شوې وه لوټ شوې ده.

د غزنویانو د عصر منارونه (۱۲ میلادی پیړۍ) د پیښو د اغیز له کبله بیړنۍ پاملرنې ته اړتیا لري.

د ۱۲ میلادي پیړۍ په وروستیو کې د غور په ولایت کې د غوریانو د عصر منار جام: طبیعي عوارض او د سیند له غاړې د اوبو د راپورته کېدو له امله د هغه ټینګښت او ساتنه بیړنۍ اړتیا ګڼل کیږي.

د کابل ښار:

د تیمور شاه مقبره ۱۷۹۳م: د تیموریانو په دود جوړه شوې ودانۍ په جدي ډول د ویجاړې په حال کې ده. بڼ له منځه تللی دی، بیړني ساختماني ترمیم ته اړتیا لري.

په ۱۷ میلادي پیړۍ کې د مغولي دورې د بابر بڼ: د جګړې په اثر د بابر مقبره (۱۵۳۰م)، مرمري جومات (۱٦٤٦م) زیانمن شوي، په ۱۸۸۳ کې جوړ شوی پاویلون د جګړې له کبله ویجاړ شوی او حرم سرای د بمبارۍ په وجه وران شوی دی. د بڼ ونې وهل شوي او د سون د موادو په توګه ترې کار اخیستل شوی دی.

زوړ ښار: د ۱۸-۱۹م پیړۍ اړوند یو لړ ودانیو له ګچې او حکاکي ښکلا سره د خاورو په ډېرۍ بدل شوی دی.

ملي ارشیف: په ۱۸۹۱م کال کې جوړه شوې ماڼۍ چې په ۱۹۷۳-۱۹۷۸م کې د ملي آرشیف لپاره ترمیم شوه د جګړو له کبله یې زیانونه وزغمل خو بیا یې هم حالت ښه دی.

بوستان سرای: په ۱۸۹۲ کې جوړ شوی او په ۱۹۰۱ کې د عبدالرحمن پر مقبرې بدل شو. له ۱۹۹۲ کال وروسته د امنیتي پوستو د استوګنې او نه ساتنې له کبله ورځ په ورځ د ویجاړې له ګواښ سره مخ دی.

ګلستان سرای: په ۱۸۹۲ کې ودان شوی حرمسرای د بوستان سرای لپاره: لازمه څارنه یې نه ده شوې. یو وخت د ترانسپورت د ډیپو په توګه ترې ګټه پورته کېدله. په ۱۹۹٦ کال کې د تاریخي آبداتو د ساتنې د ریاست له تفاهم پرته په غلطو مشورو د ښاروالۍ پواسطه ترمیم شوی دی.

د ګچو د کارونې او د لرګیو د باندې برخې ښکلایې په ښه حالت، خو څنې داخلي برخې یې له منځه وړل شوېدي.

باغ بالا: د ۱۸۹۳ م کال اړوند ماڼۍ چې په ۱۹۶٦ کال کې بیا ترمیم شوه، د جګړې له کبله رسیدلی زیان یې ناڅیز و، ترمیم شوې وه. خود سیاف ډلې له هغې څخه میلمستون جوړ کړ او اوس د طالبانو د قوماندانۍ مقر دی. له همدې کبله له ویجاړۍ سره مخ ده.

د ستوري ماڼۍ: د بهرنیو چارو وزارت اړوند په ۱۹۰۱ م کې جوړه شوه او په ۱۹۱۲ - ۱۹۱۵ کلونو کې نورې زیاتونې پکې وشوې او نورې برخې ورپورې وتړل شوې. پر ۱۹۹۵ کال یې په صالون کې نوی زیاتون راوستل شو.

د شاه دو شمشیره جومات: د ۱٦ م پیړۍ د جومات پر ځای، د هغه ودانۍ په ۱۹۲۰ کال کې جوړه شوې ده، په ښه حالت کې ساتل کیږي.

د کابل څنډې:

د چکړیو مینار: د لومړنیو میلادي پیړیو بودایي مینار د توغندیو د لګیدو له امله زیانمن شوی و. خو د هغو د لایلو له مخې چې تر اوسه څرګند شوي نه دي، د ۱۹۹۸ په اپریل کې نړیدلی دی.

ګلدره: ٤ میلادي پیړۍ پورې اړوند د بودایي معبد او ستو په مجتمع: په پراخ ډول د سیمه ایزو قوماندانانو له خوا د آثارو د ترلاسه کولو او غلا کولو لپاره پلټل شوې ده.

چهلستون: د ۱۸۸۸ کال یوه ودانۍ وه چې پر ۱۹۰۵ او ۱۹۵۰ کال پکې نور بدلون راوستل شو. د لویو جګړو له امله د خاورو په ډیرۍ بدله شوې ده.

د دار الامان ماڼۍ: په ۱۹۲۳ کال کې د حکومت د مرکز په توګه وپیژندل شوه او جګړو هغې ته درووند زیان اړولی دی.

د تاج بيگ غونډۍ: په ۱۹۲٤ كال پورې دې اړوندې ماڼۍ لږ زيان ليدلى دى.

پغمان: دوبنى استوګنځى و چې په ۱۹۲۰ كې جوړ شوى، د ښكلو ماڼيو ، تياترونو او هوټل په ګډون، په قصدي ډول په خاورو بدل شوى چې دليل يې تر اوسه څرګند نه دى. جګړو هغه ته زيات زيان اړولى. جومات يې د سيمې د خلكو له خوا تر بيا جوړونې لاندې دى.

د افغانستان لويديځ:

هرات:

جامع جومات: په ۱۲۰۰ م كې د غوريانو په وخت كې جوړ شوى او په ۱٥ ميلادي پيړۍ كې د تيموريانو په واسطه بيا ترميم او له ۱۹٤۳ كال را په دې خوا يې ښكلا ته نوره پاملرنه هم كيږي. له جګړې څخه رسېدلي زيانونه يې ترميم شوي او په ښه ډول ساتل كيږي.

د مالان پل: له ۱٥۰٦ كال څخه شتوالى لري. جګړو ورته زيان رسولى او د ۱۹۹٤ - ۱۹۹٦ كلونو تر منځ په ناسم (غير فني) ډول ترميم شوى دى.

د امام فخررازي جومات او مزار: د ۱۳ م پيړۍ اړوند: جګړو هغه ويجاړ كړى او د پانګوالو خلكو له خوا نا مناسب ترميم يې نيمګړى پاتې دى.

د مصلى مينارونو مجتمع: د ۱٥ پيړۍ د تيموريانو د وخت اړوند د ګوهرشاد مقبره چې د جګړو له كبله د هغې د ګونبزې د كاشۍ زياتې برخې له منځه تللې دي. هغه ونې چې په ۱۹٤۰ كې د ساتونكي ديوال په توګه د جون - سپتمبر د مياشتې د ۱۲۰ ورځيني باد په مقابل كې

ایښودل شوې وې، له منځه وړل شویدي. په دې سیمه کې د شپږو موجودو منارونو څخه یو یې د یو توغندي په واسطه له منځه تللی او دوه نور یې د توغندي له مستقیم لګېدو سره سره ولاړ پاتې دي. هغو ته له مخامخ خطر سره سره د ځینو جنجالونو د شتوالي له کبله د هغو د ترمیم کار ځنډول شوی دی.

ګازرګاه: د تیموریانو په واسطه په ۱۵ میلادي پیړۍ کې په کاشیو ښکلی شوی زیارت د ۱۱ میلادي پیړۍ ستر صوفي، شاعر او فیلسوف خواجه عبدالله انصاري ته ځانګړی شوی دی. د هغه د مجاورانو له خوا ښه ساتل کیږي. د مرمرو له ډبرو څخه جوړه د یوه حیوان مجسمه چې هغه ته په ورننوتونکې دروازه کې ودرول شوې وه. د طالبانو له خوا لرې شوې ده.

د کرباس حوض: د هرات د ښار د لویدیځ د غلوار په کلي کې له داخلي ښکلاو سره په تیموري دورې پورې تړلی دی. د د یو ډنمارکي غیر حکومتي سازمان ډاکار DACAAR موسسې په واسطه ترمیم شوی دی.

د محدث زیارت: د تیموریانو د دورې د ۱۵ میلادي پېړۍ اړوند مدرسه او جومات چې د ۹م پېړۍ د پوهان خواجه عبدالولید په ویاړ جوړ شوی و، د جګړې له کبله ورته زیات زیان اوښتی دی. د مقبرې پر سر د ګونبزې ترمیم د خلکو په همکارۍ د ډاکار موسسې له خوا پیل شوی دی.

د ظفر تخت: د تیموریانو د دورې د ۱۵ پېړۍ تفریحي بڼ و. تر ۱۹۶۶ کال پورې د کارېدو وړ و. پر ۱۹۹٤ کال له یوې مخې له کاره ووت، د مجاهدینو په وخت کې د هغه د بیا جوړونې لپاره د هرات د والي تورن اسماعیل خان پلان پر ۱۹۹۵ کال د هرات ښار ته د طالبانو په راتګ سره عملي شوی نه دی.

د چهارسوق حوض: د ۱۷ م پېړۍ اړوند د عامه اوبو زیرمه: وچه شوې او د له منځه تلو په حال کې ده.

## د افغانستان شمال:

د تخار ولایت خواجه غار ته نږدې له میلاد څخه د مخه ٤-۲ پېړیو یو یوناني ښار دی چې د فرانسویانو له خوا پلټل شوی و. د بلدوزرونو او د تونلونو د کیندلو په واسطه هلته په منظم ډول تالان ګډ دی.

طلا تپه: شبرغان ته نږدې: په لومړۍ میلادي پېړۍ پورې اړوند د کوشانیانو یوه هدیره د افغانستان او شوروي لرغونپوهانو ګډ و کیندنو شپږ قبرونه رابهر کړل چې له هغو څخه د شل زره په شاو وخوا کې د سروزرو آثار لاس ته راغلي وو. د دوو ناپلټل شویو قبرونو تالان په ۱۹۸۰ کلونو کې پیل شو.

سرخ کوتل: پلخمري ته نږدې ۲ میلادي پېړۍ پورې اړوند مذهبي مجتمع. پدې باب معلومات په لاس کې نشته.

رباطک: په ۲ میلادي پېړۍ پورې اړوند پلخمري ته نږدې یو سلطنتي معبد: د ۱۹۹۳ کال تصادفي کشف، .د بغلان د والي په واک کې دی.

د رستم تخت: د سمنګانو ولایت ایبکو ته نږدې په ٤ او ٥ میلادی پېړۍ پورې اړوند بودایي مجتمع او ستوپه غلا شوې او لوټ شوې نه ده.

## بلخ:

زوړ ښار: د ۱۹۹٥ کال له پټو پلټنو څخه د آی خانم یوناني ستنو ته

ورته ستنې لاس ته راغلي چې د شخصي کورونو د جوړولو لپاره ورڅخه کار اخیستل شوی دی. ناتائید شوي راپورونه دزیاتو کشفونو خبرې کوي.

د نه گنبد جومات: ساساني دوره ۹ میلادي پېړی: د ساتنې دیوال یې د نړیدو او د گچو برخه یې د اوبو د توئیدو له خطر سره مخ ده او د ماتیدو له کبله یې یوه لیندی له خطرناک حالت سره مخ شوی ده. بیړنی ترمیم ته اړتیا لري.

د خواجه ابونصر پارسا زیارت: د تیموریانو د دورې د وروستیو وختونو اړوند: د هغه د گونبزې د کاشیو ځینې برخې د توغندیو د لگیدو له امله یې ځایه شوې دي. د ۱۹۷٤ کال ترمیمونه د نه ساتنې له کبله له خطر سره مخ دي. د هغه داخلي برخه نسبتاً قناعت بښونکې ده. په جنوب لوري کې د نوي جومات جوړول د هغه اصلي ډیزاین له منځه وړي.

د سید سبحان قلي خان مدرسه: د ۱۷ م پیړی د وروستیو وختونو اړوند: په جدي ډول د نړیدو په حال کې ده.

مزار شریف:

د حضرت علي کرم الله وجهه روضه: د ۱۵ پېړی د تیموري عصر وداني: د عصري کاشیو له نویو ښکلاو سره پرې له ۱۹۹٤ کال را په دې خوا غیر فني کار روانده. د هغې لوی چمن د سمنتو له کڅوړو، میزونو او څوکیو څخه ډک دی.

د مزار په لویدیځ کې تخته پل: د ۱۹ م پېړی اړوند جومات: باندینی برخه یې په نسبتاً ښه حالت کې ده خو د داخلي برخو رنگمالي یې د ویجاړی له گواښ سره مخ ده.

د آقینې حوض: د اندخوی په شمال کې د ۱٦م پیړۍ شاوخوا اړوند: د اوبو د یوې ژورې ۱٦ متري زیرمې پر سر ۱٦ متري گونبزه: نوې رنگمالې شوې او ښه حالت لري.

د سر پل - امام خورد: د سلجوقیانو د وخت د یوولسمې میلادي پیړۍ اړوند: د داخلي ښکلاوو او غوره ډبرلیکنو لرونکی، ښه ساتل شوی دی.

## د افغانستان ختیځ:

هډه، جلال آباد ته نږدې له ۲ تر ۷ میلادي پیړۍ اړوند د بودایي معبد او ستوپه یوه مجتمع: په ۱۹۸۱ کال کې د جگړو له کبله ویجاړه شوې. په ټولیز ډول یې ټول آثار وړو وړو له منځ یوړل شول. د یو غیرمنقول موزیم په توگه په اصلي حالت ساتل کیده، اوس ورڅخه څه پاتې نه دي.

غوچک: جلال آباد ته نږدې: د وروستیو راپورونو پر بنسټ دا سیمه ټوله پلټل شوې او څه یکې پاتې نه دي.

نمله: د جلال آباد په لویدیځ کې د ۱٦۱۰م کال اړوند د مغلو د وخت بڼ، او د شلمې پیړۍ اړوند د امیر حبیب الله بڼ او ماڼۍ: د شلمې پیړۍ یوه ماڼۍ په ۱۹۹٤ کې د معروف په نوم د یو افغاني غیر حکومتي سازمان (د نړۍ د خوړو او کرنې د سازمان) په مرسته ترمیم شوه.

## د افغانستان جنوب:

### د هلمند ناوه:

په بست او لښکري بازار کې د ۱۲ م پیړۍ د غزنویانو د وخت ژمنۍ ماڼۍ او بالاحصار: له جگړې څخه د مخه د بست تشریفاتي

ليندۍ ترميم او تر اوسه پورې هغې ته د کوم جدي زيان د رسيدو خبر تر لاسه شوی نه دی.

## کندهار:

د آشوکا ډبرليک: د کندهار په زاړه ښار کې ارامیک او یوناني دوه ژبی یو ډبرليک چې ۳ ق م. پيړۍ پورې مربوط دی پخپل اصلي حال موجود و. د هغه په باب معلومات په لاس کې نشته.

چهل زينه: د ۱٦ ميلادي پيړۍ اړوند له ډبرې څخه د څلوېښتو پوړيو جوړه يوه زينه، چې د ظهير الدين محمد بابر د لاښوونې له مخې د جوړ شوي ډبرليک له محوطې سره تښلي، د هغو په باب معلومات په لاس کې نشته.

د احمدشاه بابا مقبره (۱۷۷۲م): بهرنۍ برخه يې ډېره استادانه مهندسي او په داخل کې نقاشي لري چې په ښه حالت کې ده.

د ميرويس نيکه مقبره (۱۷۱۵م): په ۱۹۳۰م کال کې د احمدشاه بابا د مقبرې په شان جوړ شوې ده؛ د باندې د ښې مهندسۍ او په داخل کې د نقاشۍ لرونکې ده چې شا و خوا يې د کوه کران د بڼ په واسطه احاطه شوې او ښه ساتل شوې ده.

سلسلهء نشرات کتابخانهء سپک

# نظری بر میراثهای فرهنگی افغانستان

نانسی هچ دوپری

انجمن حفظ میراث فرهنگی افغانستان
۱۹۹۸

## مشخصات کتاب


| | | |
|---|---|---|
| نام کتاب | : | نظری بر میراثهای فرهنگی افغانستان |
| نویسنده | : | میرمن نانسی هچ دوپری |
| مترجم متن دری | : | میر احمد جوینده |
| مترجم متن پشتو | : | عبدالله پویان |
| ادیتر | : | حامد |
| ناشر | : | «سپك» انجمن حفظ میراث فرهنگی افغانستان |
| سال چاپ | : | ۱۳۷۷ هجری شمسی |
| نشانی | : | اریك، صندوق پوستی شماره ۱۰۸٤، پوسته خانهء یونیورستی تاون، پشاور، پاکستان. |
| ای میل | : | Spach @spach. org. pk |
| انترنت | : | http: // www. spach. org. pk |
| تیراژ | : | ۱۰۰۰ نسخه |
| قیمت | : | روپیه |
| کمپوزر | : | عبدالغفور «میرویس» |
| کمپوز | : | نصیر لیزر کمپوز، اطاق شماره ۱۲٤، منزل دوم، گل حاجی پلازه، پشاور، پاکستان، تلفون ٤۳۸٦۱ |

# فهرست مطالب

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| **الف: مقدّمه** | |
| ۱- چه باید کرد؟ | ۵ |
| ۲- ادارات رهبری کننده | ٦ |
| ۳- منابع بشری تربیه شده | ۱۰ |
| ٤- احساس مسؤولیت جامعه | ۱۱ |
| ۵- تطبیق و اشاعهء قانون | ۱۷ |
| **ب: اولویتها** | |
| ۱- احساس دفاع | ۲۳ |
| ۲- جمع آوری معلومات | ۲۵ |
| ۳- انتشار معلومات | ۲۵ |
| ٤- تربیهء کدرها | ۲۵ |
| ۵- تبادلهء متخصصین | ۲٦ |
